مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۳/۰۸/۱۳

# وصیت

زه به یمه که به نه یم خویارانو
پردې شاړوبه وړمه د بهارراشي
دا سپېرې د شتي به رنګ د ګلشن واخلي
سره اوسپین ګلان به دلته په خنداشي
*****

مسیحا به د ژوندون ساه وي پو کړي
د مرګي پرکوربه سرې لمبې وي پوري
په هرزړه کي به مستی وهي موجونه
د نشا ط ځېره به ښکاري په هر لوري
*****

د نېستی او د خواریومخ به پرته
هره شپه به وي برات، ورځ به اختر وي
د سرور او د خوښی دوره به راشي
د سرورنغمه به هرلور په شوق سُروي
*****

ارمانجن زړګي به نه سوځي ځيګر کي
په مراد به رسېدلي وي ټول زړونه
په خندا به د ښادی اوخوښی دلته
شګفته وي غوندې خولې لکه ګلونه
*****

نو زماګرانو یارانو په ما ګرانو
اې زما دسترګو توروقدرمنو
اې چي ما غوندې مو ورځې تیاره نه دي
اې چي خلاص یئ له تېریو له ظلمونو
*****

هغه ورځ چي پدې شاړو بهار راشي
هغه دم چي دلته وخاندي ګلونه
ها لحظه چي ستاسي خولې په نغمو سرشي
په مستی مو هریو ګل راولي زړونه
*****

ما درياد کړئ او د زړه له جوشه سر کړئ
زما د میني اوجنون نغمه هر ګل ته
زما د سوي او داغدار زړګي له خولې نه
دا خبره وکړئ هرګل اوسنبل ته
*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

چي: اې اې ښکليو ګلونو په خندا شئ !
چي دې ورځي ته يوڅوک هوسېده ډېر
د دې شاړو د ګلزار ليدو په هيله
شپه او ورځ په ناروسر ۇ چغېده ډېر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ